## د ۲۶ جون ۲۰۱۳ د اروپايي ټولنې ريګوليشن (EC) لمبر ۲۰۱۳/۶۰۴ په موافقت لاربښودنې کوم چې د غړي دولت د نړيوال پناه د پاره د درخواست د کتنې زمه وارئ څرګندولو دپاره معيار او طريقه ټيټګوي کوم چې د يو دريم ملک مليت لرونکي يا مليت نه لرونکي شخص په غړي دولت کې ورکړې ي
## (ډبلن III)

تاسو په اسټريا کې د نړيوال حفاظت دپاره درخواست ورکړې دې. خو بيا هم د دې دا مطلب نه دې چې ستاسو د پناه اخيستو د پاره عمل به په اسټريا کې کيږي. د ځنې قانوني مخکښې ضرورتونه دلاسه ، په لاندي ورکړي شوو ملکونو کې به يو ملک ستاسو د پناه دپاره درخواست د ډبلن کنونشن III په موافقت د کتنې زمه وار کيداى شي:

بلجيم، بلغاريه، جرمني، ډنمارک، فن لينډ، فرانس، ګريس، آيرلينډ، آيس لينډ، اټلي، کروشيا، ليختينستين، لکسيمبرګ، هالينډ، ناروے، پرتګال، رومانيه، سويډن، سپين، انګلينډ، استونيا، ليټويا، ليتونيا، مالټا، پولينډ، سلويک ريپبلک، سلوانيا، سويس، چيک ريپبلک، هنګري او يونان.

که چيرې په دې ملکونو کې يو ملک هم ستاسو د پناه اخيستو درخواست د کتنې د پاره زمه وار ي او هغوي د خپلې زمه وارئ تايد اوکړي نو فډرالي پناه اخيستو دفتر به يو فيصله صارده کړي کوم کې چې به وايئ چې آسټريا ستاسو د پناه درخواست د عمل د پاره زمه واري نه لري. او تاسو به په راتلونکي ډول هغه ملک ته بدل کړې شئ.

ستاسو د درخواست د کتنې د پاره د بل يو ملک زمه وارئ د لاندني حالاتو د پاره د اجرا وړ ده:

- ستاسو د کورنئ يو غړې (ستاسو ميره يا ميرمن، ماګړې، بې واده ماشوم؛ په هغه صورت کې چې ثابت شي چې تاسو. کم عمره ماشوم ياست: پلار، مور، او يا کوم بل بالغ شخص چې د غړي هيواد د قانون يا عادي کړنو په اساس ستاسو قانوني ولي وي) يا خو د مخکې نه په دغه يو ملک کې د نړيوال حفاظت لادې اوسيګيي او يا ي د نړيوال حفاظت د پاره درخواست ورکړې ي د کومې دپاره چې د وړوالي په بنياد ړومبئ فيصله لا پاتې ي.
- ستاسو سره په پورته ورکړې شوي ملکونو کې د يو ملک له اړخه د استوګنځې سند ي او يا د داخليدنې په وخت درسره د پورته ورکړې شوي ملکونو کې د يو ملک د سفارتي نمايندګو له اړخه ويزه درکړې شوي ي.
- تاسو په پورته ورکړې شوي ملکونو کې يو ملک ته سفر کړې ي چې يورپ ته داخل شوي يئ او يا تاسو هلته د خپل داخليدو نه پس د پنځه مياشتو دپاره پاتې شوي يئ.
- آسټريا ته د داخليدو نه وړاندې تاسو په پورته ورکړي شوي ملکونو کې په يو ملک کې د نړيوال حفاظت دپاره درخواست ورکړې ي کوم چې په EURODAC پوښتنه معلوميدې شي.

که چيرې نښې او اشارې ي چې دا وګڼاې شي چې په پورته ورکړې شوي ملکونو کې يو ملک ستاسو د کيس د کتنې دپاره زمه واري لري، نو فډرالي پناه دفتر به ستاسو د پناه د پاره د درخواست ورکولو نه پس په درې مياشتو کې دننه داسې ملک ته د داخليدو دپاره درخواست ورکواې شي. کوم ملک ته چې درخواست ورکړې شوي ي هغوي ته په دوه مياشتو کې دننه ځواب ورکول ضروري دي. که چيرې په دې وخت کې ځواب ملاؤ نه شي نو دا وګڼاې شي چې د داخليدو دپاره درخواست مناې شوې دې. که چيرې تاسو د مخکې نه په پورته ورکړې شوي ملکونو کې په يو ملک کې د پناه دپاره درخواست ورکړې ي نو، په دې حالت کې لنډه کتنه او عمل مناسب ي.

که چيرې د داخليدو دپاره درخواست يقيناً رد کړې شوې ي، نو د نړيوال حفاظت د پاره به ستاسو درخواست په آسټريا کې کتاې کيږي.

که چيرې د داخليدو دپاره درخواست اومناې شي، نو تاسو ته به فيصله ملاو شي چې ورسره به د اپيل کولو د طريقې هدايات ي او به زمه وار غړي ملک ته د هغوي د تاييدسره بدل کړې شئ. او دغه غړې ملک به بيا ستاسو د پناه د درخواست کتنه کوي. که تاسو ځانګړي طبي اړتياوي لرئ، اسټريا بايد دا معلومات تر ليږلو وړاندې، ستاسو د ليکل شوي رضايت له ترلاسه کولو وروسته، اړوند غړي هيواد ته وسپاري.

د بل ملک له اړخه د فدړالي پناه دفتر د داخليدو د درخواست د منلو نه پس به په شپږو مياشتو کې دننه به په اصولي توګه دغه بدلونه سر ته ورسولې شي، که نه نو بيا د پناه د پاره د درخواست  د کتنې زمه واري واپس آسټريا ته وسپارلې شي. په ځنې حالاتو کې دغه موده اوږديدې شي، لکه د مثال په توګه، چيرې تاسو د بدلونې نه د تيښتې کوښښ اوکړئ.